## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**8قوس _سال 1402**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د افغانستان له پاره د اروپايي اتحاديي له سرپرستي سره وليدل --------------------- 1

اتحادیه اروپا ۱۴۲ میلیون یورو به برگشت‌کنندگان اجباری اختصاص داد ------------------------------------------- 2

معین مسلکی وزارت، از جریان ترمیم کمپ موقت برگشت کننده گان اجباری در ولایت قندهار بازدید نمود ------------- 3

بلغاریا: یو تن کډوال د سړې هوا له امله مړ شوی ------------------------------------------------------------------- 3

فرانسه: څلور تنه انګلیس کانال کې د کډوالو ډوبېدو په تړاو محکمې ته معرفي شول -------------------------------- 5

ترکیه: استانبول ښار کې تر ۲۶۰ زیات بې اسناده کډوال نیول شوي ------------------------------------------------- 6

7

بیش از ۲۶۰ مهاجر غیرقانونی در ترکیه دستگیر شدند ----------------------- Error! Bookmark not defined.

یک قاچاقبر انسان باید ۶۵ هزار پوند به خانواده‌های قربانیان مهاجر پرداخت کند ------------------------------------ 8

دیدبان حقوق بشر: پاکستان فوراً بدرفتاری با مهاجرین افغان را متوقف کند ------------------------------------------ 9

بازگشت‌خوردگان از ایران و مهاجران در این کشور از وضعیت شان نگرانی دارند --------------------------------- 10


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د افغانستان له پاره د اروپایي اتحادیې له سرپرستې سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د اروپایي اتحادیې له سرپرستې آغلې رافیلا لودیک او مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل
ښاغلي حقاني آغلې رافیلا لودیک او مل پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ په پاکستان، ایران او ترکیې هېوادنو کې د مهاجرینو د وضعیت او تر اوسه پورې په اجباري توګه هېواد ته د راستنو شویو مهاجرینو د ارقامو په اړه معلومات ورکړل.
آغلې رافیلا له حقاني څخه د راستنېدونکو مهاجرینو د غوره مدیریت او تنظیم په برخه کې ځانګړې مننه وکړه او زیاته یې کړه دا ستاسو ځانګړی مهارت او فن و چې په دې اندازه راستنېدونکي مو ښه مدیریت او خدمات مو ورته وړاندې کړل
آغلې رافیلا زیاته کړه موږ باید په ګډ او پوره همغږۍ راستنېدونکو ته خدمات وړاندې کړو او همدا راز یې د راستنېدنکو مهاجرینو له پاره د ۱۴۲ میلیون یورو مرستې اعلانولو وعده وکړه او همدا راز یې وویل: موږ به په ګډه له یونیسار او آی، او، ایم سره هم د راستنېدونکو په اړه د همغږۍ ناستې ولرو او په هر ډول شرایطو کې ستاسو سره همکارۍ ته چمتو یو .
ښاغلي حقاني له آغلې رافیلا او مل پلاوي له همکاریو  څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې کوربه هېوادونه په ځانګړي ډول پاکستان، ایران او ترکیه هېوادنه د افغان مهاجرینو د ځورولو څخه لاس واخلي او د دوی انساني او بشري حقونو ته دې درناوی وکړي او له دوی څخه دې خپل اموال په ناقانونه توګه نه ضبطوي
همدا راز یې راستنېدونکو ته د خېمو او کور جوړولو په موخه د زیاتو مرستو غوښتنه وکړه او د اسلامي امارت له

لوري يې دوی ته د بشپړ امنيت او شفافيت ډاډ ورکړ
آغلې رافيلا په نيږدې راتلونکي کې په  مرزونو کې د راستنېدونکو له وضعيت څخه د ليدنې ژمنه هم وکړه
د يادولو وړه ده چې، په دې ناسته کې د وزارت د دفتر، پلان او پاليسۍ او د مرستو او همغږۍ رئيسانو هم ګډون درلود.

## اتحادیه اروپا ۱۴۲ میلیون یورو به برگشت‌کنندگان اجباری اختصاص داد

خامه پرس



**در حالی که نگرانی‌هایی جدی در مورد وضعیت بشری در افغانستان ادامه دارد، وزارت امور مهاجرین حکومت سرپرست اعلام کرده است که اتحادیه اروپا مبلغ ۱۴۲ میلیون یورو به مهاجرین اختصاص داده است.**

**این وزارت روز سه‌شنبه،هفتم قوس در صفحه ایکس نگاشته است که رافیلا لودیک، سرپرست دفتر اتحادیه اروپا در افغانستان و هیات همراه‌اش در مقر این وزارت دیدار و گفتگو کردند.**

**وزارت امور مهاجرین امارت اسلامی افغانستان افزوده است که همزمان با این دیدار  اتحادیه اروپا به ارزش ۱۴۲ میلیون یورو به مهاجرین تازه اخراج شده از ایران و پاکستان اختصاص داده است.**

**خلیل الرحمان حقانی، سرپرست این وزارت در مورد عودت اجباری مهاجرین از پاکستان، ترکیه و ایران و تعداد آنها وضاحت داد و علاوه کرده است  که کشورهای  میزبان مهاجرین، به خصوص ایران، پاکستان و ترکیه، باید از برخورد نادرست وظبط غیر قانونی دارایی واموال مهاجرین خود داری کنند.**

**از سوی هم وزارت امور مهاجرین حکومت سرپرست در حاشیه این دیدار  از اتحادیه اروپا خواهان همکاری و مساعدت در تهیه سرپناه، خیمه و مواد خوراکی به عودت کننده هاشد و از حسابدهی و شفافیت امور به ایشان اطمینان داد.**

**این درحالی است که پیش از این نیز اتحادیه اروپا ۶۱ میلیون یورو را برای تامین نیازهای پناهجویان افغان و سایر افغان هایی که از پاکستان اخراج شده اند اختصاص داده بود.**

**اخیرا  در حالیکه روزانه هزار افغان از پاکستان اخراج می شوند، همزمان با فرا رسیدن فصل سرما در کشور  بحران بشری در افغانستان بیشتر از پیش افزایش یافته است..**

## معین مسلکی وزارت، از جریان ترمیم کمپ موقت برگشت کننده گان اجباری در ولایت قندهار بازدید نمود

ویب سایت وزارت




**مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و رئیس کمیته اسکان موقت برای عودت کننده گان از جریان کار کمپ موقت تخته پل ولایت قندهار به تاریخ 6 قوس بازدید نمود.**

**معین مسلکی وزارت؛ در جریان سفر کاری خویش به ولایت قندهار به مسئولین مربوطه هدایت داد، تا پروسه کاری را سرعت بخشند، وی در رابطه به کیفیت کار بر مسئولان نیز تاکید نمودند .**

**گفتنی است که کمپ یاد شده گنجایش هزاران خانواده را دارا میباشد، از طرف کمیته اسکان موقت برای پذیرایی خانواده های برگشت کننده اجباری از پاکستان در آن ولایت ترمیم و قسمت زیادی از آن آماده بهره برداری میباشد.**

## بلغاریا: یو تن کډوال د سړې هوا له امله مړ شوی

مهاجرنیوز



**د بلغاریا چارواکي وایي پلازمېنه صوفیا کې د دوشنبې په ورځ یو تن کډوال د سړې هوا له امله مړ شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې له تېرو څو ورځو راهیسې د بالکان دغه هېواد د سختو واورو او توپانونو شاهد دی .**

**د بلغاریا دولتي ټلویزیون د دغه هېواد د کورنیو چارو وزارت له قوله ویلي، د یاد کس جسد د تېرې دوشنبې په ورځ د نومبر په ۲۷مه صوفیا ښار کې موندل شوی دی. نوموړي له ۹ نورو کډوالو سره یو ځای د سرپناه د نشتوالي له کبله د سړک پر غاړ شپه سبا کړې وه.**

**سرچینې زیاته کړې چې د دغو کسانو له ډلې څخه دوه تنه یې روغتون ته وړل شوي او پاتې نور یې د کډوالو مرکزونو ته استولي دي.**

**دا پېښه په داسې حال کې رامنځته کېږي چې د تېرې اونۍ په پای کې د بلغاریا پلازمېنه صوفیا او ځینې نورې سیمې د سختو واورو او توپانونو شاهدې وې. د صوفیا ښاروالۍ د نومبر په ۲۸مه وویل، یوازې د دوشنبې په ورځ یې د ونو د لوېدو ۳۶۰ پېښې ثبت کړې دي.**

**بیا ولولئ :<u>بلغاریا: جیپ موټر کې ۱۴ کډوال او ۴ قاچاق وړونکې موندل شوي</u>**

**د کډوالو پر وړاندې تاوتریخوالی**

**هر کال د افغانانو په ګډون زیات شمېر کډوال هڅه کوي چې له ترکیې څخه د بلغاریا پر لار ځانونه اروپایي ټولنې ته ورسوي.**

**د روان کال د فبرورۍ په میاشت کې د بلغاریا پلازمېنه صوفیا ته څېرمه په یو لارۍ موټر کې د ۱۸ افغانانو مړي وموندل شول. دغو کډوالو په موټر کې د اکسیجن د کمښت او د سړې هوا له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی و.**

**د بلغاریا د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې، پوله ساتو ځواکونو د ۲۰۲۳ جون میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د جولای تر ۳۱مې نېټې پورې له ترکیې څخه دغه هېواد ته د شاوخوا ۴۷ زرو بې اسناده کډوالو د داخلېدو مخه نیولې ده. دا په داسې حال کې چې تېر کال په همدې موده کې له ترکیې څخه بلغاریا ته د ۲۷ زرو کډوالو د ننوتو مخه نیول شوې وه .**

**بیا ولولئ :بلغاریا: لارۍ موټر کې تر ۸۰ ډېر افغان کډوال موندل شوي**

**په تېرو څو کلونو کې بلغاریا کې د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي ګڼ راپورونه خپاره شوي دي. ډېرى کډوال وايي چې هلته يې شخصي وسایل غلا شوي، زندان ته اچول شوي او یا هم هغوی ته اجازه ورکړل شوې نه ده چې بلغاریا کې د پناه غوښتنه وکړي.**

## فرانسه: څلور تنه انګلیس کانال کې د کډوالو ډوبېدو په تړاو محکمې ته معرفي شول

مهاجرنیوز



**د فرانسې او برېتانیا ترمنځ اوبو کې د یوې ښځې او یوه نارینه تر ډوبېدو وروسته څلور تنه د غیر قصدي وژنې په تور محکمې ته معرفي شوي دي. تورن کسان د عراق او سوډان اتباع دي.**

د بولونی سور مېږ څارنوالۍ ویلي، نیول شوي کسان چې ویل کیږي د عراق او سوډان اصلي اوسېدونکي دي او ناقانونه کډوالی ته یې لاره هواره کړې د تېرې شنبې په ورځ د نومبر په ۲۵مه محکمې ته معرفي شول.

د فرانسې امنیتي چارواکو د نومبر په ۲۲مه انګلیس کانال کې د دوو مهاجرو تر ډوبېدو وروسته د ۱۰ شکمنو کسانو د نیول کېدو خبر ورکړی و.

دغه دوه کډوال چې شاوخوا تر ۳۰ کاله یې عمرونه درلودل د تېرې چهارشنبې په ورځ د نومبر په ۲۲مه د پا دو کالې د نوفشاتل او اکین پلاژ په ساحلي اوبو کې د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې ووژل شول. په دې کښتۍ کې ۶۰ مهاجر سپاره ول. پاتې ۵۸ کسان چې په ډله کې یې یوه ۷ کلنه ماشومه هم وه د ژغورونکو ډلې له خوا بولونی سور مېږ بندر ته انتقال شوي وو .

بیا ولولئ :<u>انګلیس کانال کې د کښتۍ ډوبېدو له امله دوه تنه مړه شوي</u>

کښتیو کې د کډوالو شمېر زیات شوی

د رسمي شمېرو له مخې، د روان میلادي کال له پیل څخه تر اوسه پورې دا اووهم او اتم مهاجر دي چې د فرانسې او برېتانیا ترمنځ اوبو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي.

مرستندویه سازمانونه وایي د فرانسې په سواحلو کې د امنیتي ځواکونو شتون د دې سبب کیږي چې کډوال په ځان خطر ومني. دغه سازمانونه همداراز برېتانیا ته د تګ لپاره د خوندي او قانوني لارو پر نشتوالي نیوکه کوي.

بیا ولولئ :<u>د پاریس څارنوالۍ انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې په اړه پلټنې پیل کړې</u>

د او – دو – فرانس د روان کال په اوړي کې ویلي وو، له ۲۰۲۱ راهیسې برېتانیا ته تلونکو کښتیو کې د سپرو کډوالو شمېر دوه چنده زیات شوی او دمګړۍ په هره کښتۍ په متوسطه توګه ۵۳ کډوال ځای پر ځای کیږي. د برېتانوي چارواکو د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې تر ۲۷ زرو زیاتو کډوالو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته رسوي دي. په ۲۰۲۲ کې بیا ۴۵ زره کډوال د سمندر له لارې برېتانیا ته اوښتي وو

## ترکیه: استانبول ښار کې تر ۲۶۰ زیات بې اسناده کډوال نیول شوي

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




د ترکي رسنیو د راپورونو له مخې، امنیتي ځواکونو استانبول ښار کې د یو لړ عملیاتو په ترڅ کې ۲۶۲ بې اسناده کډوال نیولي دي. د چارواکو په وینا، دغو کسانو غوښتل چې د سمندر له لارې ځانونه اروپایي هېوادونو ته ورسوي .

د ترکیې حریت خبري اژانس لیکي، دغه کډوال د استانبول ښار د سلطان غازي ناحیې له ۱۰ پټځایونو څخه موندل شوي دي. نیول شوي کسان چې غوښتل یې د سمندر له لارې ځانونه اروپایي هېوادونو ته ورسوي د قاچاقبرانو له خوا په «غیر انساني شرایطو» کې ساتل کېدل.

چارواکو ویلي دغه کډوال یې د اخراج مرکزونو ته استولي او له ترکیې څخه به وایستل شي.

امنیتي ځواکونو د انساني قاچاق په تړاو د ۵ تنو د نیولو خبر هم ورکړی دی .

د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال د جون میاشتې څخه تر سپټمبر میاشتې پورې د ترکیې په بېلابېلو سیمو کې تر ۱۱۲ زره ډېر بې اسناده کډوال نیول شوي دي. د ترکیې د کورنیو چارو وزیر علي یرلیکایا د اکتوبر په ۱۳مه پر خپله اېکس پاڼه لیکلي وو، په همدې موده کې ۳۹۷۵ شکمن قاچاق وړونکي هم پېژندل شوي چې له دې ډلې څخه ۱۲۲۵ تنه یې نیول شوي. نوموړي زیاته کړې وه چې د ترکیې ځواکونو د شاوخوا ۸۱ زره بې اسنادو کډوالو مخه هم نیولې چې د دغه هېواد پولې ته ور رسېدلي وو.

بیا ولولئ :<u>ترکیه کې تر ۶۰ ډېر افغانان نیول شوي دي</u>

د افغان کډوالو د ایستلو دوام

تېر کال څه باندې ۱۲۴ زره او ۴۵۰ کډوال له ترکیې څخه ایستل شوي چې ۶۶۵۰۰ تنه افغان کډوال هم پکې شامل وو. ترکي چارواکي دا د دغه هېواد په تاریخ کې» تر ټولو ډېر اخراج «بولي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په افغانستان کې د طالبانو له بیا واکمنۍ وروسته سلګونه زره افغانان د ترکیې په ګډون ګاونډیو هېوادونو ته کډوال شول. له دې سره په ترکیه کې د افغان کډوالو د نیولو او له دغه هېواد څخه د افغانانو د ایستلو بهیر هم چټک شو .همدا راز له ایران سره پر پوله امنیتي تدابیر هم ډېر شول چې له امله یې ترکیې ته د ګنو کډوالو د داخلېدو مخه ونیول شوه.

بیا ولولئ :<u>ترکیه د بې اسناده کډوالو د نیولو لپاره ځانګړې ایلېکېشن کاروي</u>

د بشري حقونو د څار سازمان د ۲۰۲۲ په نومبر میاشت کې د یوه راپور په خپرولو سره له ترکیې څخه د افغان کډوالو پر ایستلو نیوکه وکړه. په دې راپور کې راغلي وو چې په ترکیه کې افغان کډوال اجازه نه لري چې د نړیوالي ساتنې غوښتنه وکړي. همدارنګه ډېری وختونه اخراجېدونکو افغانانو ته ترکیه کې د پناه غوښتنې چانس هم نه ورکول کېږي.

## یک قاچاقبر انسان باید ۶۵ هزار پوند به خانواده‌های قربانیان مهاجر پرداخت کند

مهاجرنیوز




یک قاچاقبر انسان که مسئول مرگ ۳۹ مهاجر در انبارگاه یک موتر لاری شده است، باید به بازماندگان آن‌ها ۶۵ هزار پوند (حدود ۷۵ هزار یورو) پرداخت کند.

خبرگزاری بریتانیا «پی ای» این خبر را به روز جمعه بعد از صدور حکم یک محکمه در لندن گزارش داده است.

این مرد ۴۶ ساله در سال ۲۰۲۱ به جرم چندین مورد قتل به ۲۷ سال زندان محکوم شده بود. او به عنوان یکی از دو سرکرده یک باند قاچاق انسان شناخته شده است که مهاجران را در بدل پرداخت پول‌های هنگفت از طریق کانال مانش به بریتانیا قاچاق می کردند.

**اجساد ۳۹ مهاجر ویتنامی با سنین ۱۵ تا ۴۴ سالگی در سال ۲۰۱۹ در انبارگاه بدون منفذ هوا یک موتر لاری کشف شده بود. این موتر قبلاً با یک کشتی از بلجیم به بریتانیا رسیده بود. آن مهاجران بعد از متحمل شدن عذاب شدید در نبود هوا، خفه شدند.**

**براساس حکم قاضی، پرداخت غرامت باید در ظرف سه ماه انجام شود، در غیر آن فرد محکوم را یک سال زندان بیشتر تهدید می کند.**

## دیدبان حقوق بشر: پاکستان فوراً بدرفتاری با مهاجرین افغان را متوقف کند

آریانانیوز



**دیدبان حقوق بشر اعلام کرده است که حکومت پاکستان برای مجبور کردن افغان‌ها به ترک این کشور، به گونه گسترده با آنها بدرفتاری می‌کند.**

**این نهاد با نشر اعلامیه‌ای روز سه شنبه گفت که پولیس و سایر مقامات مهاجرین را بازداشت، اموال آنها را ضبط و اسناد هویتی آنها را از بین برده اند. از اواسط سپتمبر ۲۰۲۳، حکومت پاکستان بیش از ۳۷۵ هزار نفر را مجبور به بازگشت کرده اند.**

**الین پییرسن، رئیس بخش آسیای دیدبان حقوق بشر گفت: «مقامات پاکستانی محیط اجبار را برای افغان‌ها ایجاد کرده اند تا آنها را مجبور به بازگشت به شرایط خطرناک در افغانستان کنند. مقامات باید فوراً به بدرفتاری‌ها پایان دهند و به افغان‌هایی که در معرض اخراج قرار دارند این فرصت را بدهند تا در پاکستان به دنبال محافظت باشند.»**

به گفته دیدبان حقوق بشر، بدرفتاری‌ها شامل عملیات شبانه بوده که طی آن پولیس افغان‌ها را مورد لت و کوب، تهدید و بازداشت قرار داده است. پولیس همچنین درخواست رشوت کرده و جواهرات، مواشی و سایر اموال آنها را ضبط و خانه ها را با بولدوزر تخریب کرده است.

پییرسن گفت: «دولت‌هایی که وعده داده‌اند افغان‌های در معرض خطر را اسکان می‌دهند، باید این پروسه را تسریع کنند و در عین حال پاکستان را تحت فشار قرار دهند تا به تعهدات حقوق بشری خود عمل کند. همچنین کشورها باید تلاش‌های خود را برای رسیدگی به بحران انسانی در افغانستان که اکنون با هجوم صدها هزار انسان نیازمند در آغاز زمستان تشدید شده است، افزایش دهند.»

## بازگشت‌خوردگان از ایران و مهاجران در این کشور از وضعیت شان نگرانی دارند

سلام و وطندار



با نزدیک‌شدن به زمستان و اخراج روزانه‌ی هزارن مهاجر از ایران، بازگشت‌خوردگان، از نبود فرصت‌های شغلی در افغانستان و وضعیت بد زندگی شان شکایت دارند.

بازگشت‌خوردگان از ایران، می‌گویند که بی‌کاری و ناداری در افغانستان، آن‌ها را ناچار می‌کند که برای بار چندم تصمیم رفتن به ایران را بگیرند.

بصیر امیری، باشنده‌ی سرپل، به سلام‌وطندار می‌گوید: «دو ماه آمدم افغانستان، این جا کار نبود. دوباره ایران رفتم، ایران بودم، دوباره ردمرز شدم این جا هم هیچ کار و شرایط زندگی این جا نسیت و تصمیم دارم برای بار سوم نیز پس برویم.»



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

از چندی به این سو، روند اخراج مهاجران افغان از ایران نیز شدت گرفته و روزانه، هزاران تن بدون میل خود شان، به افغانستان بازگشت داده می‌شوند.

هارون، باشنده‌ی نیمروز که در بیش از یک ماه اخیر از ایران بازگشت خورده، می‌گوید: «مه و مادرم تنها بودیم در ایران. مه کار می‌کردم، مره دست‌گیر کردن، اردوگاه آوردن، د هر قسمت که می‌رسیدم، جداگانه از ما پول می‌گرفتند. هر قدر کار کرده بودیم، ایرانی‌ها از پیش ما گرفتند. مه تا حالی بی‌کار استم، کار می‌بود هیچ نمی‌رفتیم.»

گفتنی است که روز گذشته، خبرگزاری رسمی ایرنای ایران، گزارش داده بود که بیش از ۲۴ هزار مهاجر افغان در ۱۰ روز گذشته از این کشور به افغانستان بازگشت داده شده اند.

با این همه، مهاجرانی که هنوز آن سوی مرز در تقلای کار اند نیز، از شدت سخت‌گیری‌های این حکومت شکایت کرده و وضعیت شان را نگران کننده می‌خوانند.

محمود، یکی از مهاجران افغان که به گونه‌ی غیرقانونی در ایران به سر می‌برد و مصروف کارهای شاق است، می‌گوید که اخیراً کرایه‌های اتاق و قیمت اجناس برای مهاجران افزایش داده شده و اخراج آن‌ها نیز شدت گرفته است. «در ایران چند روزی یکی از نماینده‌های شان اعلام کرده که اوضاع برای افغان‌ها ضیق کنیم که اینا خود شان حتا بیرون شوند، کرایه خانه به اینا افزایش داده شود. این مشکلات زیاد است، کرایه خانه سه میلیون است به افغان‌ها پنج میلیون است، مزدهای شان را به وقت نمی‌دهند کسایی که کار می‌کنند.»

در همین حال، عبدالله قیومی، آمر امور پناهندگان در گذرگاه مرزی اسلام‌قلعه در هرات، به سلام‌وطندار می‌گوید که روزانه، دو هزار تا دو هزار و ۵۰۰ تن از طریق این گذرگاه به افغانستان بازمی‌گردند. او، می‌افزاید: «تعداد اخراجی‌ها در حالت کاهش است؛ روزانه ۲۰۰۰ تا ۲۳۰۰ اخراج می‌شود. دو هفته پیش، در یک هفته ۲۰ هزار تن اخراج می‌شد، در حال حاضر ۱۰ هزار تن در هفته می‌آید.»

خبرگزاری ایرنا، همچنان گزارش داده که در شش ماه گذشته، ۳۲۸ هزار مهاجر افغان که مدرک اقامت نداشتند، از ایران اخراج شده است.

گفتنی است که همزمان با نگرانی مهاجران افغان از نبود زمنیه‌ی کار در افغانستان و سرمای زمستان پیش رو، روزانه هزاران مهاجر افغان از پاکستان به کشور بازگشت داده می‌شوند.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*